# که تاسو د پناه غوښتنه وکړئ

## د پناه غوښتنې د عمومی طرزالعمل اړوند معلومات

**تاسو ولې دا لیک ترلاسه کړ؟**

تاسو په هالنډ کې د پناه غوښتنه کړې ده  د پناه غوښتنې مانا دا ده چې په بل هیواد کې هغو کسانو ته خوندیتوب ورکړل شي چې په خپل هیواد کې خوندي نه وي  او په خپل هیواد کې محافظت ونه لري

کله چې تاسو د پناه غوښتنه کوئ، تاسو په رسمی ډول د هالنډ حکومت څخه د استوګنې د جواز غوښتنه کوئ  تاسو په هالنډ کې د ژوند کولو لپاره دې جواز ته اړتیا لرئ  ستاسو د پناه غوښتنې له غوښتنلیک وروسته، د پناه غوښتنې پروسه پیلیږی  دا یوه قانوني پروسه ده چې په ترڅ کې به یې د هالنډ حکومت دا ارزونه کوی چې ایا تاسو د استوګنې جواز ترلاسه کوئ

په دې رساله کې، تاسو کولای شئ دا ولولئ چې د پناه غوښتنې پروسې په جریان کې څه پیښیږی  تاسو باید دا هم ولولئ چې باید څه کوئ  ستاسو مسؤولیتونه څه دي  او تاسو د هالنډ له حکومت څخه د څه شي تمه کولای شئ  ستاسو حقوق څه دي

## تاسو د کومو سازمانونو سره مخ یاست؟

که تاسو د یو کوچني پناه غوښتونکی په توګه هالنډ ته د والدینو یا نورو خلګو پرته چې ستاسو پاملرنه کوي راشئ، نو د هالنډ د قانون سره سم باید ستاسو د سرپرستی چاري تنظیم شي په هالنډ کيStichting Nidos سازمان دی چې په دې برخه کې فعالیت کوي Nidos د بې سرپرسته کوچنیو بهرنیو اتباعو ځینو کسانو لپاره د سرپرستی او ښه راغلاست چاري تنظیموي او په رسمي ډول ستاسو د سرپرستی لپاره غوښتنه کوي وروسته Stichting Nidos یو کارمند ستاسو د ماشوم د ساتونکی په توګه ټاکي دا شخص په هالنډ کې ستاسو سره ملګری وي د نورو شیانو ترڅنګ، د ځوانانو محافظ شخص ستاسو سره د مهمو پریکړو په ترسره کولو کې مرسته کوي او ډاډ ترلاسه کوي چې تاسو د ژوند لپاره ښه ځای لرئ او تعلیمي چاري درته برابروي د ځوانانو محافظ او ساتونکی به ستاسو د پناه غوښتنې د پروسې په جریان کې ستاسو سره مرسته وکړي، مګر د ځوانانو ساتونکی شخص د IND پریکړه هیڅ اغیز نه لري Nidos روزنیزو کورنیو کې د 15 څخه کم عمره ماشومانو پالنه کوي او هغه ځوانان چې په کوچنیو کورونو کې د استوګنې اجازه لري تاسو به د سرپرستی او ښه راغلاست په اړه نور مالومات له Nidos ترلاسه کړئ

www.nidos.nl

Centraal Orgaan opvang asielzoekers (COA) هالنډ کې د پناه غوښتونکو لپاره د پناه غوښتنې پروسې په جریان کې د ښه راغلاست او لاربوونې چاري چمتو کوی سربیره پردې، COA ورکوي چې تاسو خواړه او روغتیایي بیمه ترلاسه کوئ د ډاکټر سره د اړیکو په برخه کې هم COA شي ستاسو مرسته وکړي COA یوه خپلواکه اداره ده او ستاسو د پناه غوښتنې په اړه پریکړه نه کوي

www.coa.nl

GezondheidsZorg Asielzoekers (GZA) سازمان دی چې کله تاسو ناروغ یاست یا طبي پوښتنې ولرئ، نو همدې سازمان ته مراجعه کوئ د GZA مرکز د COA ښه راغلاست په هر مرکز کې یا ورسره نږدې شته GZA مرستیال ډاکټر، نرس، د GGZ عمومي ډاکټر، د رواني روغتیایي فعالیتونو د مرستیال ډاکټر سره ستاسو ملاقاتونه تنظیموي

www.gzasielzoekers.nl

VluchtelingenWerk Nederland (VWN) بشري حقونو خپلواکه اداره ده چې د پناه غوښتونکو د امتیازاتو د استازیتوب لپاره تاسیس شوې ده VWN ته د پناه غوښتنې پروسې په اړه معلومات او توضیحات درکوي VWN ته د دې پروسې په ترسره کولو کې په شخصی ډول خبر درکوي او ستاسو ملاتړ کوي او همداراز د ستونزو رامینځته کېدو په صورت کې د نورو سازمانونو سره منځګړیتوب کوي او په دې برخه کې له خپل وکیل سره په ګډه کار کوي VWN د پناه غوښتنې د غوښتنلیک په اړه پریکړه نه کوي

www.vluchtelingenwerk.nl
www.refugeehelp.nl

Raad voor Rechtsbijstand (RvR) ته ډاډ درکوي چې که تاسو خپله چاري مخته نه شئ وړلای، کولای شئ د یو وکیل څخه مرسته وغواړئ دغه وکیل ته به RvR د مرستي لپاره فیس ورکړي وکیل د RVR استازیتوب کار نه کوی دا وکیل په خپلواکه توګه د قانوني مرستي چمتو کونکی دی چې ستاسو د پناه غوښتنې په پروسه کې درسره مرسته کوي

www.rvr.org

Immigratie- en Naturalisatiedienst (IND) هالنډ د عدليي او امنيت وزارت یوه برخه ده د پناه غوښتني اداره IND دې اړه څېړنه کوي چي ایا تاسو په هالنډ کي د پناه غوښتني حق لرئ که نه له همدې امله تاسو د کارمندانو سره خبرې کوئ چي تاسو څوک یاست او ولي تاسو په هالنډ کي د پناه غوښتنه کړې ده؟ IND د شخصي کیسي او ستاسو په اصلي هیواد کي د وضعیت ارزونه کوي بیا نو IND کوي چي ایا تاسو کولای شئ په هالنډ کي په موقت ډول پاتي شئ که نه www.ind.nl

د امنیت ساتونکي د IND ودانیو او د COA ښه راغلاست په مرکزونو کي شته تاسو به دوی د یونیفورم له مخي وپيژنئ دوی ستاسو د خوندیتوب لپاره هماله وي تاسو کولای شئ له دوی څخه وپوښتئ چي په ودانیو او د IND COA تاسیساتو کي د څه شي اجازه لرئ او څه شي اجازه نه لرئ دا امنیتي ساتونکي ستاسو د پناه غوښتني د غوښتنلیک پر پریکړه هیڅ اغیزه نلري

Dienst Terugkeer en Vertrek (DT&V) هالنډ د عدليي او امنيت وزارت برخه ده او د هالنډ د بیرته ستنیدو د پالیسي مسؤلیت لري که د پنا غوښتنه مو رد شي، DT&V له ستاسي سره مرکه وکړي که دا لاهم روښانه نه وي چي ایا ستاسو په هیواد کي په مناسب ډول تاسو ته ښه راغلاست ویل کيږي که نه، DT&V شي په دې اړه تحقیق وکړي که تاسو غواړئ بیرته خپل هیواد ته ستانه شئ، DT&V ستاسو سره د خروج یا وتلو د چارو په تنظیم کي مرسته وکړي www.dienstterugkeerenvertrek.nl

Internationale Organisatie voor Migratie (IOM) خپلواکه اداره ده چي په ټوله نړۍ کي د کډوالو ملاتړ کوي کله چي تاسو غواړئ په خپلواک ډول هالنډ پریږدئ IOM شي ستاسو سره مرسته وکړي IOM ته د بیرته راستنیدو او ادغام په اړه عملي معلومات درکوي او له هالنډ څخه ستاسو د وتلو په چارو کي ستاسو لاربنوونه او همرغي کوي تاسو کولای شئ په Nidos، یا VWN د خوانانو د محافظ یا هم ستاسو د وکیل څخه غوښتنه وکړئ چي په دې برخه کي ستاسو سره مرسته وکړي www.iom-nederland.nl

## له تاسو څخه د څه تمه کيږي؟

دا مهمه ده چي تاسو باید دا واضح کړئ چي ولي تاسو د پروسي په جریان کي د پناه غوښتنه کړې ده IND ډول له تاسو څخه دا تمه لري چي د امکان تر حده خپلي ستونزې په ثبوت ورسوئ د مثال په توګه، د اسنادونو یا لیکونو سره سربیره پردې، دا مهمه ده چي تاسو د خپلي کورنۍ په اړه هرڅه ووایاست، چي دوی چیرې ژوند کوي او تاسي چیرې اوسیږئ

ستاسو د راجستریشن مرکې څخه وړاندې به تاسو د اسنادو د لیږلو په اړه د IND یوه دوسیه ترلاسه کړئ ایا تاسو د رجستریشن له مرکې وروسته خپل د پناه غوښتني اړوند مهم اسناد ترلاسه کوئ؟ پدې رساله کي تاسو کولای شئ دا ولولئ چي څنګه دا اسناد IND ته وسپارئ

ایا تاسو فزیکي یا رواني ستونزې لرئ او ایا دا مهمه ده چي IND دې اړه پوه شي؟ مهرباني وکړئ په دې اړه ژر تر ژره IND راپور ورکړئ IND کوي چي تاسو ته تر ټولو غوره ملاتړي خدمات چمتو کړي په دې توګه تاسو کولای شئ د پناه غوښتني پروسي ته دوام ورکړئ

## ستاسو د پناه غوښتنې پروسې لپاره چمتووالی نیسئ؟

ایا تاسو له 15 تر 18 پورې عمر لرئ؟ د COA دا چاري تنظیموي چي تاسي به د نوملیکني له مرحلي وروسته د ځوانو پناه غوښتونکو لپاره د استوګني په ځانګړی مرکز کي ژوند کوئ ایا ستاسو عمر له 15 څخه کم دی؟ که داسي وي، نو NIDOS ستاسو لپاره د یوې پالونکي کورنی سره د ژوند کولو چاري تنظیم کړي

د راجستریشن مرحلي وروسته، د استراحت او چمتووالی وخت RVT په RVT به تاسو طبی معاینه ترلاسه کړئ ترڅو معلومه شي چي ایا تاسو کولای شئ د پناه غوښتني د دلایلو په اړه څه ووایاست په RVT به تاسو د VluchtelingenWerk (VWN) پناه غوښتني د پروسي په اړه معلومات ترلاسه کړئ VWN پناه غوښتني د پروسي په جریان کي ستاسو لاربښود او ملاتړ کوي دا مرستي وړیا دی د پناغوښتني د پروسي له پیل څخه لږ مخکي به له خپل وکیل سره وګورئ ستاسو وکیل د پناه غوښتني په اړه قوانین او مقررات پېژني او ستاسو سره مرسته کوي چي د تفصیلی مرکي لپاره ځان چمتو کړئ دا مرکه د IND خبرې اترې دی چي هلته تاسو دا تشریح کوئ چي ولي تاسو د پناه غوښتنه کوئ د وکیل مرسته وړیا ده

## ورځ په ورځ د پناه غوښتني پروسه

د IND ستاسو د ملاقات په ورځ، تاسو د IND ته ځئ او د پناغوښتني عمومی پروسیجر AA پیل کړئ AA 6 ورځي وخت نیسي د پناغوښتني عمومي پروسه اوږده هم وي AA، چي معمولا 9 دوام کوي AA پناه غوښتني د غوښتنلیک لپاره ځانګړی پروسه ده چي تمه کېږي IND اوږده تعقیبي مرکه ترسره کړي یا به و غواړي چي نور تحقیق وکړي او همدارنګه د پناه غوښتونکو لپاره چي د رواني یا فزیکي ستونزو له امله ډیري پاملرني ته اړتیا لري د RVT IND کوي چي ایا AA ته لاړ شي که AA ته لاندې تاسو دا لوستلای شئ چي د پناغوښتني پروسي اړوند هره ورځ باید څه وشي

*د عمومي پناه غوښتني طرزالعمل AA*

### 1 ورځ: تفصیلي مرکه

تفصیلي مرکه د IND یو کارمند سره خبري اتري دي په دې مرکه کي کولای شئ د خپلي پناه غوښتني دلایل په تفصیل سره تشریح کړئ د مرکي په جریان کي به له تاسو څخه پوښتني هم وشي تفصیلي مرکه د IND دفتر کي ترسره کیږي د تفصیلي مرکي په جریان کي به یو ژباړونکی حاضر وي IND هالنډي ژبه پوښتني کوي ژباړونکی به دا پوښتني هغې ژبې ته ژباړی چي تاسو وربانديې پوهېږئ ژباړونکی ستاسو ځوابونه هالنډي ژبي ته ژباړي ژباړونکی یو خپلواک شخص دی، د IND کار نه کوی او ستاسو د پناه غوښتني پر پریکړه باندې هیڅ اغیزه نلری مهم که تاسو او ژباړونکی په سمه توګه د یو بل په خبرو نه پوهیږئ، نو سمدستي موږ ته ووایاست IND هڅه وکړي چي یو بل ژباړونکی برابر کړي دا مهمه ده چي تاسو پوښتني په سمه توګه درک کړئ ترڅو د غلط فهمی مخه ونیول شي IND د تفصیلي مرکي راپور چمتو کړي

دا مهمه ده چي خپله کیسه په بشپړه توګه ووایاست، ترڅو IND شي چي تاسو محافظت ته اړتیا لرئ د هغه څه په اړه ریښتني، بشپړ او روښانه وړغېږئ چي ستاسو سره پیښ شوي دي او ولې تاسو نه شئ کولای په خپل اصلی هیواد کي خوندیتوب ولرئ که تاسو یوه ځانګړي او مشخصه پیښه په یاد نه وي، په اړه یې IND ووایاست د IND ستاسو په هیواد کي د عمومي وضعیت څخه خبر دي دا مهمه ده چي تاسو موږ ته د خپل وضعیت په اړه ووایاست چي تاسو ولي شخصی خوندیتوب ته اړتیا لرئ؟ همدارنګه د

امکان تر حده ډېر توضیحات ورکړئ آن کوچني توضیحات هم کېدای شي ډېر مهم وي IND هم له تاسو څخه په دې اړه پوښتنې وکړي

ایا تاسو د خپل پناه غوښتنې د غوښتنلیک اړوند کومې فزیکي یا رواني ستونزې لرئ؟ که داسې څه وي، نو دا مهمه ده چې تاسو یې په اړه IND ته ووایاست بیا نو IND کولای شي تاسو ته د طبي معاینې وړاندیز وکړي، دا په هغه صورت کې که چیرې دا معاینه ستاسو د غوښتنلیک د ارزونې لپاره ګټوره وي تاسو کولای شئ دا معاینه پخپله او په خپل لګښت ترسره کړئ ستاسو وکیل کولای شي ستاسو سره په دې برخه کې مرسته وکړي دا مهمه ده چې تاسو د IND سره په خبرو اترو کې هم په واضح ډول ووایاست چې څوک کولای شي یا نه شي کولای چې ستاسو لپاره په هغه هیواد کې چې تاسو ورڅخه راغلي یاست یا هلته چې تاسو مخکې اوسېدلي یاست د پاملرنې خدمات وړاندې کړي IND ته دا هم واضح کړئ چې تاسو ولې داسې فکر کوئ

په NIDOS ستاسو وکیل یا د ځوانانو ساتونکی معمولا د مرکې په جریان کې موجود لری تاسو کولای شئ له VWN هم وغواړئ چې د مرکې په جریان کې حاضر وي تاسو به د تفصیلي مرکې راپور له IND ستاسو د وکیل څخه ترلاسه کړئ

## 2 ورځ: د تفصیلي مرکې په اړه بحث کول

ستاسو وکیل به ستاسو سره د تفصیلي مرکې د راپور په اړه بحث وکړي

د دې خبرو اترو په جریان کې به یو ژباړونکی هم مرسته کوي چې هر هغه څه وژباړي چې تاسو او وکیل یې وایئ که چیرې په راپور کې یو شی ورک شوی یا غلط وي، نو ستاسو وکیل به په دې اړه د یو لیک له لارې IND راپور ورکړي

## 3 ورځ: لومړۍ پریکړه

IND ارزوي چې ایا تاسو د پناه غوښتنې د جواز لپاره شرایط پوره کړي که نه د دې ارزونې پایله به دا معلومه کړي چې ستاسې د پناغوښتنې پروسه څنګه پرمخ ځي دلته 3 شته

1. تاسو د پناه غوښتنې د اجازې شرایط پوره کړي دي تاسې به د د خپل وکیل له لارې د IND پرېکړې لخوا یو لیک ترلاسه کړئ چې پکې ویل شوي وي چې ستاسې د پناه غوښتنې غوښتنلیک منظور شوی دی دا په دې مانا ده چې تاسو کولای شئ لنډمهاله توګه په هالنډ کې ژوند وکړئ ستاسو وکیل به دا تشریح کړي چې دا پرېکړه به پر تاسو څنګه اغیزه وکړي
2. د پناه غوښتنې اداره IND پلټنې لپاره ډېر وخت ته اړتیا لري او نه شي کولای د 6 یا په AA کې د 9 په جریان کې ستاسو د پناه غوښتنې په اړه پریکړه وکړي IND د پناه غوښتنې په تمدید شوې پروسه کې ستاسو د پناه غوښتنې غوښتنلیک نور هم پروسس کړي ورسته به ستاسې د پناه غوښتنې د غوښتنلیک په اړه پرېکړه وشي تاسو به د پناه غوښتنې د دې تمدید شوي طرزالعمل په اړه د مالوماتو سره یوځای یوه بله مالوماتي پاڼه ترلاسه کړئ په هالنډي ژبه Verlengde Asielprocedure (VA)
3. IND دا قضاوت کوي چې تاسو د پناه غوښتنې د اجازې شرایط نه دي پوره کړي تاسو به د خپل وکیل له لارې د IND یو لیک ترلاسه کړئ چې پکې ویل شوي چې IND د پناه د غوښتنلیک د ردولو اراده لري دا لیک د ارادې په نوم یادېږي په دې لیک د دې لومړي ردېدلو لاملونه هم بیان شوي دي او دا هم لیکل شوي چې دا پرېکړه ستاسو لپاره کومې پایلې لري ستاسو وکیل به د دې لیک په اړه ستاسو سره بحث وکړي

## 4 ورځ: پریکړې ته غبرګون

که چیرې IND لری چې ستاسو د پناه غوښتنې غوښتنلیک رد کړي، نو د خپلې ارادې په هکله له خپل وکیل سره بحث وکړئ بیا ستاسو وکیل کولای شي IND د پریکړې په اړه لیکلی غبرګون واستوي دا یو لیک دی چې په رسمی ډول د IND ته غبرګون پکې بنودل شوی وي په دې لیک کې، تاسو کولای شئ دا تشریح کړئ چې ولې تاسو د ارادې نومې پرېکړې سره موافق نه یاست

**5 او 6 ورځ: پریکړه**

ستاسو د غبرګون یا ځواب لوستلو وروسته به IND چي ایا د ردېدلو پرېکړه یا اراده باید تنظیم شي د دې پرېکړې پایله دا په ګوته کوي چي ستاسي د پناغوښتني پروسه څنګه روانه ده IND د دې ارزوني پایلي ستاسو وکیل ته د یو لیک له لاري راپور کړي ستاسو وکیل به دا تشریح کړي چي دا پرېکړه ستاسو لپاره کومي پایلي لري دلته څلور انتخابونه شته

1. د پریکړې په اړه ستاسو د غبرګون لوستلو وروسته، IND دي باور ده چي تاسو د پناه غوښتني د اجازې لرلو شرایط پوره کړي دي تاسي به د د خپل وکیل له لارې د IND پرېکړي لخوا یو لیک ترلاسه کړئ چي پکې ویل شوي وي چي ستاسي د پناه غوښتني غوښتنلیک منظور شوی دی
2. تاسو کولای شئ په لنډمهاله توګه په هالنډ کي پاتي شئ ستاسو وکیل به دا تشریح کړي چي دا پرېکړه به پر تاسو څنګه اغیزه وکړی
3. د پناه غوښتني اداره IND پلټني لپاره ډیر وخت ته اړتیا لري او نه شي کولای د 6 یا په AA کې د 9 په جریان کې ستاسو د پناه غوښتني په اړه پریکړه وکړي IND په VA ستاسو د پناه غوښتني غوښتنلیک پروسس ته دوام ورکړی تاسو به د پناه غوښتني د دې تمدید شوي پروسیجر په اړه د معلوماتو لپاره یوه بله رساله ترلاسه کړئ
4. لا تراوسه د IND دا ښيي چي تاسو د پناه غوښتني د اجازې شرایط نه دي پوره کړي تاسو به د خپل وکیل له لارې د IND څخه یو لیک ترلاسه کړئ چي پکې ویل شوي چي ستاسو د پناه غوښتنه رد شوې ده په پریکړه کې د غوښتنلیک د ردېدولو لاملونه او دا چي ستاسو لپاره به یې پایلي څه وي تشریح شوي وي په دې کې دا هم ویل شوي وي چې که تاسو د پناه غوښتني د ردېدلو سره موافق نه یاس، نو تاسو څه کولای شئ او دا چي تاسو خپل هیواد ته د بیرته ستنیدو لپاره څه کولای شئ؟ ستاسو وکیل به ستاسو سره د دې حکم په اړه بحث وکړي

*د عمومي پناه غوښتني پروسیجر 9 ورځي AA*

ایا IND د پناه غوښتني غوښتنلیک د AA لاري پروسس کوي؟ بیا ستاسو د پناه غوښتني پروسه معمولا 9 وخت نیسي

- 1 2 تفصیلی مرکه؛
- 3 4 د وکیل سره د تفصیلی مرکي په اړه بحث کول؛
- 5 لومړی پریکړه؛
- 6 7 د وکیل د پرېکړې غبرګون؛
- 8 9 دوهمه پرېکړه

## د خپل غوښتنلیک بیرته اخیستل

تاسو کولای شئ هر وخت خپل غوښتنلیک لغوه کړئ په داسي یو حالت کې، ښه خبره داده چي د یو وکیل سره، یا په NIDOS د ځوانانو د یو محافظ سره اړیکه ونیسئ ایا تاسو د IND خپل غوښتنلیک بیرته اخلئ؟ تاسو نور نه شئ کولای په هالنډ کې پاتي شئ البته پرته له هغه حالته چي تاسو د بل دلیل له امله دلته د پاتي کیدو اجازه ولرئ ایا تاسو د پناه غوښتنه بیرته اخلئ او ایا تاسو د کوم بل دلیل له امله په هالنډ کې د پاتي کیدو اجازه نه لرئ؟ بیا نو تاسو باید بیرته خپل هیواد ته ستانه شئ تاسي به د بیرته ستنیدو د سفر تر پیل پورې په استوګنځي کې پاتي شئ ستاسو د پناه غوښتني د غوښتنلیک بیرته اخیستلو وروسته، دا ممکنه ده چي بیاځلي د پناه غوښتنه وکړئ

## د پناه غوښتنې له پروسې وروسته

**تاسي د استوګنې اجازه ترلاسه کوئ**
که چیرې IND د پناه غوښتنې د غوښتنلیک په اړه مثبت پریکړه وکړي، نو تاسو کولای شئ د اوس لپاره په هالنډ کې ژوند وکړئ. تاسي د استوګنې اجازه ترلاسه کوئ که تاسو 15 یا ډیر عمر لرئ، نو Nidos یو کوچنی استوګنځي کې ستاسو د اوسېدو لپاره د ځای پرځای کولو چارې تنظیموي. د استوګنې د اجازې د ترلاسه کولو وروسته IND ته ستاسي د حقونو او مکلفیتونو په اړه خبر درکوي. په NIDOS ستاسو د ځوانانو ساتونکي او د VWN کولای شي ستاسو سره مرسته وکړي چې هر ډول سازمانونو ته لار ومومئ
او همداراز به ستاسو سره ښاروالي ته د تګ او د زده کړې یا کار په موندلو کې مرسته وکړي. ستاسو د ځوانانو چارو محافظ کولای شي ستاسو سره د کورنۍ د غړو په راوستلو کې هم مرسته وکړي

**تاسو به د پناه غوښتنې اجازه ترلاسه نه کړئ**
ایا IND د پناه غوښتنه ردوي؟ بیا IND دا هم وګوري چې ایا ستاسو په هیواد کې ستاسو لپاره د ژوند کولو مناسب ځای شته که نه. د بیلګې په توګه، ستاسو د والدینو، خپلوانو یا د ښه راغلاست د مرکز لخوا. که چیرې ستاسو لپاره مناسب ځای وي، IND پریکړه کوي چې تاسو باید بیرته خپل هیواد ته ستانه شئ. که چیرې IND وکړي چې تاسو به پناه وانه اخلئ، آیا لا تر اوسه هم د ښه راغلاست په اړه هیڅ وضاحت نشته؟ بیا د IND Dienst Terugkeer en Vertrek (DT&V غوښتنه کوي چې د مناسب ښه راغلاست ځای په اړه څېړنه وکړي. تمه کیږي چې تاسو به د دې څېړنې سره په ښه توګه همکاري وکړئ. دغه څېړنه تر 1 پورې دوام کوي. تر څو چې دا څیړنه روانه وي، تاسو کولای شئ په هالنډ کې پاتې شئ. بیا تاسو د یو نابالغ په توګه په یو کوچني استوګنځي کې یا د یوې پالونکي کورنۍ سره ژوند کوئ

که چیرې ستاسو لپاره د استوګنې مناسب مرکز نه وی، DT&V په دې اړه IND خبر ورکړي. وروسته، تاسو کولای شئ د IND د بې سرپرسته نابالغو پناه غوښتونکو لپاره د استوګنې اجازه ترلاسه کړئ. دا په دې شرط پورې اړه لري چې تاسو تل د څېړنې په چارو کې په ښه توګه همکاري کړې وي. که تاسو په ښه توګه همکاري ونه کړئ، IND شی DT&V نور وخت ورکړي ترڅو دا وڅېړي چې ستاسو په هیواد کې څوک کولای شي چې ستاسو پاملرنه وکړي. ایا تاسو په دې برخه کې همکاری نه کوئ او ایا د هالنډ حکومت نه شي کولای تاسي بیرته خپل هیواد ته ولیږي؟ تاسو به تر هغه وخته د پاملرنې خدمات ترلاسه کوئ چې تاسو 18 ته رسیږئ یاست. له دې وروسته، تاسو په هالنډ کې غیرقانوني یاست او د اوسېدو حق له لاسه ورکوئ. همدارنګه تاسي اجازه نه لرئ چې ښوونځي یا کار ته لاړ شئ

که چیرې IND د پناه غوښتنې غوښتنلیک رد کړي، نو تاسو کولای شئ د خپل وکیل سره په مشوره د هالنډ محکمې ته د دې پریکړې پروړاندې د استیناف غوښتنه وکړئ. دا په دې مانا ده چې تاسو په رسمي ډول محکمې ته راپور ورکوئ چې تاسو د IND پریکړې سره موافق نه یاست. په دې کې ممکن د مناسب او له غلطۍ پرته د استوګنې اجازه هم شامله وي. تاسو کولای شئ د محکمې څخه دا هم وپوښتئ چې ایا تاسو کولای شئ د استیناف پروسې په جریان کې په هالنډ کې پاتې شئ. ستاسو وکیل به په دې برخه کې ستاسي سره مرسته وکړي. قاضي به بیا وګوري چې آیا IND د پناه غوښتنې په اړه د پریکړې پرمهال د هالنډ قانون په سمه توګه پلې کړی دی

ستاسو د پناه غوښتنې د غوښتنلیک ردولو وروسته، DT&V نه یوازې ستاسو لپاره د ښه استقبال تحقیق وکړي. بلکې دوی به ستاسو سره ستاسو د بېرته تګ د چمتووالي په چارو کې هم مرسته وکړي. د دې لپاره، به DT&V پناه غوښتنې د غوښتنلیک ردولو وروسته ستاسو سره اړیکه ونیسي. ایا ستاسو لپاره مناسب هرکلی ویل شوی او ایا DT&V د بیرته ستنیدو لپاره هرڅه برابر کړي دي؟ بیا تاسو د یو ملګري سره یوځای چې ستاسو خپل ساتونکی دی یا مو د استوګنې ځای ته بیایي، بیرته خپل هیواد ته ګرځئ. ایا له هالنډ څخه ستاسو د وتلو په چارو کې همکاري نه کوئ؟ بیا نو د هالنډ حکومت کولای شي تاسو بېرته ستنېدو ته مجبور کړي. تاسو به تر هغه وخته پورې ونیول او توقیف شئ تر څو چې تاسو د یو کارمند لخوا خپل هیواد ته استول کیږئ

که تاسو غواړئ په خپله خوښه خپل هیواد ته ستانه شئ، مهرباني وکړئ د DT&V Internationale organisatie voor Migratie (IOM اړیکه ونیسئ د دوی په ویبپاڼه کې دا چارې تشریح شوي دي همداراز په دې کې د بیرته ستنیدو په اړه معلومات هم شامل دي او دا چې تاسو د اخراج بنسټیزي مرستي او یا د بیا یوځای کیدو ملاتړ ترلاسه کولای شئ دوی کولای شي تاسو ته عملي معلومات درکړي او ستاسو په خروجي سفر کې درسره مرسته وکړي تاسو کولای شئ د COA هرکلي په ځای کې IOM لاړ شئ تاسو کولای شئ د احتمالی بیرته ستنیدو او ملاتړ په اړه پوښتنو لپاره د VWN نورو سازمانونو سره اړیکه ونیسئ حتی د پناغوښتني له پروسي وروسته، هم تاسو کولای شئ د ملاتړ او معلوماتو لپاره په NIDOS VWN د خپل ساتونکي سره اړیکه ونیسئ

## د شخصي معلوماتو پروسس کول

شخصی معلومات ستاسو په اړه د هر ډول معلوماتو څخه عبارت دي هغه سازمانونه چې په دې رساله کې مرسته کوي لاندې ذکر شوي دي دا سازمانونه ستاسو د غوښتنلیک، راپور یا د غوښتنلیک د پروسس کولو پرمهال شخصي معلومات پروسس کوي دوی ستاسو څخه ستاسو د معلوماتو غوښتنه کوي او همدارنګه د اړتیا په صورت کې نورو سازمانونو یا اشخاصو ته دا معلومات ورکوي دا سازمانونه ستاسو له معلوماتو څخه استفاده کوي او دا د ځان سره زیرمه کوي او د قانوني اړتیا په صورت کې یې نورو سازمانونو ته ورکوي د محرمیت قانون د هغو سازمانونو لپاره مسولیتونه ټاکي چې ستاسو معلومات پروسس کوي د مثال په توګه، دوی باید ستاسو مالومات په دقیق او خوندی ډول اداره کړي د محرمیت په قانون کې ستاسو حقونه هم مشخص شوي دي د مثال په توګه، که تاسو د دې غوښتنه وکړئ، نو تاسو لاندې حقونه لرئ

- د سازمانونو سره ستاسو د معلوماتو څېړل؛
- په دې پوهیدل چې سازمانونه ستاسو د معلوماتو سره څه کوي او ولې یې کوي؛
- په دې پوهیدل چې کومو سازمانونو ته ستاسو معلومات لیږدول شوي دي

ایا تاسو غواړئ د خپلو شخصي مالوماتو د پروسس او ستاسو د حقونو په اړه لا نور پوه شئ؟ مهرباني وکړئ د اړوندو سازمانونو ویبپاڼې وګورئ

## هغه پوښتنې چې په مکرر ډول پوښتل کیږي

**کله چې زه د IND سره خپله تفصیلی مرکه لرم نو څه پیښیږي؟**

د پولیسو سره د پناه غوښتونکی په توګه د راجسټر کیدو وروسته، تاسو د IND لومړی مرکې ته انتظار کوئ دی ته د ثبت یا راجسټر مرکه ویل کیږي له دې وروسته، تاسو لږترلږه 3 وخت لرئ ترڅو د مرکې لپاره ځان چمتو کړئ د COA هرکلي په مرکز یا په پالندویه کورنئ کې به تاسو یو لیک ترلاسه کړئ چې په هغه کې به د IND ستاسو د مرکې لپاره بلنه درکول شوي وي

**}زه باید د IND لخوا د پریکړې لپاره څومره وخت انتظار وکړم؟**

د پناغوښتنې پروسه معمولا 6 AA 9 AA وخت نیسي د IND معمولا د شنبې او یکشنبې په ورځو تړلې وي دا د کاري ورځې نه دي ځینې وختونه IND شي کولای په دې موده کې پریکړه وکړي، د مثال په توګه په هغه صورت کې چې تاسو د پناه غوښتنې پروسې په جریان کې ناروغ یاست په داسې یو حالت کې، IND شی د AA AA تمدید کړي

IND شي د پناه غوښتنې د تمدید شوي پروسي په جریان کې ستاسو د پناه غوښتنې د لا ډېر پروسس کولو پریکړه وکړي له دې وروسته به تاسي ته د پناغوښتنې د تمدید شوې پروسې په اړه معلومات درکړل شي قانون دا په ګوته کړې ده چې IND ستاسو د پناه غوښتنې له نیټې څخه په څو میاشتو کې پریکړه وکړي دا د قانونی پریکړې دوره ده د قانونی پریکړې د ددورې په اړه مالومات په www.ind.nl/en/decision-periods www.ind.nl/beslistermijnen ولولئ ځینې وختونه د پریکړې موده غزول کیدای شی په هرصورت، د پناه غوښتنې د غوښتنلیک د پیل له ورځې څخه، IND د پریکړې کولو لپاره له 21 میاشتو څخه ډېر وخت ونه نیسي

ایا IND ته د پریکړې په ټاکلې موده کې پریکړه نه ده لیږلې؟ په داسې یو حالت کې، تاسو کولای شئ د لیک له لارې د IND څخه غوښتنه وکړئ چې ژر تر ژره ستاسو د پناه غوښتنې په اړه پریکړه وکړي ستاسو وکیل کولای شي ستاسو سره په دې برخه کې مرسته وکړي

**زه غواړم چې د خپلې پناه غوښتنې کیسه یوه نارینه یا ښځینه ته ووایم. ایا دا تنظیمېدای شي؟**

هو، تاسو کولای شئ دا موضوع د ثبت په مرکه د IND مرکه کې په ګوته کړئ IND کوي چې نارینه یا ښځینه کارمندان او نارینه یا ښځینه ژباړونکی د تفصیلی مرکې لپاره برابر کړي

**که زه ناروغه یا مېندواره شم نو څه باید وکړم؟**

که تاسو ناروغ یا مېندواره یاست، د طبی مشورې لپاره د معاینې پرمهال نرس ته ووایاست د خپل پناه غوښتنې د پروسې له پیلیدو وړاندې معلوماتي پاڼه وګورئ دا په ځانګړې توګه هغه مهال مهمه ده که تاسو فکر کوئ چې په ساري ناروغۍ اخته یاست، لکه نرې رنځ، خارش یا هیپاتیت بي هر هغه څه چې تاسو یې د نرس سره شریکوئ محرم ساتل کیږي نرس هیڅکله ستاسو له اجازې پرته نورو ته ستاسو روغتیایي مالومات نه ورکوي که تاسو فکر کوئ چې دا ښه خبره ده چې نرس IND معلومات ولیږدوي، کېدای شي IND د مرکو په جریان کې دا موضوع په پام کې ونیسي که تاسو د پناه غوښتنې پروسې په جریان کې ناروغ شئ، نو په دې اړه په NIDOS خپل ساتونکي، د IND ، COA VWN کارمند ته ووایاست دوی کولای شی ستاسو سره د سمو طبي مرستو په ترلاسه کولو کې مرسته وکړي که تاسو په هغه ورځ چې د IND خپل وکیل سره خبرې کوئ ناروغ یاست، نو په NIDOS د خپل ساتونکي یا د COA یو کارمند څخه غوښتنه وکړئ چې په دې اړه ستاسو وکیل یا IND خبر ورکړي

**ایا تاسو د دې مالوماتي پاڼې د لوستلو وروسته کومه پوښتنه لرئ؟**

تاسو کولای شئ په دې اړه د خپل وکیل یا د IND، COA VWN کارمندانو څخه پوښتنې وکړئ

**ایا تاسو شکایت لرئ؟**

ټول هغه سازمانونه چې د پناه غوښتنې په پروسه کې ښکیل دي په مسلکي او دقیق ډول کار کوي ایا تاسو لاهم دا فکر کوئ چې ستاسو سره د یوې اداري لخوا ښه چلند نه دی شوی؟ بیا نو تاسو کولای شئ شکایت ثبت کړئ ستاسو ساتونکی، ستاسو وکیل یا VWN شي ستاسو سره په دې اړه مرسته وکړي

دا